ژباړه: فرهاد ویاړ

۲۱ جون ۲۰۱۳

## د یانګ تسه له سیند څخه تیریدل

## (۲)



چانګ، د ممپلی دانه په احتیاط ماتوي. له هغي څخه یو تاوشوی کوچنی شانتی کاغذ راوباسي او خلاصوي یې. د لیک په لوستلو سره یې په سترګو کې ځلا څریکه وهي.



دواړه، خور او ورور، په بیړه تپوس کوي:«ژر وکړه، موږ باید څه وکړو؟...» چانګ په موسکیدلو شونډو،هغوی ته خبر ورکوي چې د ولس پوځ یوه مهمه برخه به ډیر ژر له «یانګ تسه» څخه تیر شي او بیا زیاتوي:«ډیر مهم مأموریت یې موږ ته راسپارلی دی. موږ باید د سیند په غاړه کې د دښمن د پټنځایونو نقشه چمتو کړو.»



چانګ په ټینګار سره وایي:«دا ډیر مهم کار دی! د دې لپاره اهمیت لري چې په دې کار سره دښمن نابودیږي او زموږ ګرانو ملګرو ته د تیریدو لاره پرانیزي.»



چانګ د لاسونو په خوځولو سره خبرو ته ادامه ورکوي او پر میز باندې د څو پیالو او د اورلګید د څو کڼکو په اېښودولو سره وايي:«دا د سیند څنډه ده، دلته هم بندر دی او دلته هم ښره ده او دلته هم...» چه پینګ د هغه خبرې غوږځوي او وايي: «اوهووو! اوس پوه شوم! دا ځایونه چې را ښکاره کوئ دا دښمن مرچلونه دي.»



د شپې تیاره خپره وه، د چانګ نقشه ورو ورو بشپړیدله. یوازې یوه سیمه تشه پاتې وه او هغه له ښرې ځمکې څخه تر ساحل پورې فاصله وه. تاـ پائو نقشې ته په اشارې سره وايي:«څو ورځې کیږي چې دښمن په پرله پسې ډول دې سیمې ته تیري انتقالوي او هیڅ چا ته اجازه نه ورکوي چې دغه ځای ته نژدې شي.» چانګ له لږ فکر وروسته پوښتنه کوي:«امکان لري چې دلته د دښمن سلاح کوټونه وي؟»



خور او ورو په هیجان سره وایي:«ډېر ژر باید دا موضوع روښانه کړو!» چانګ هم د تایید په ډول خپل سر خوځوي او درې واړه د عملیاتي نقشې په چمتوالي بوختېږي.



په سبا یې چانګ او تا ـ پائو د کار جامې اغوندي، د غرمې ډوډۍ د سرتیرۍ په یوې دیګچه کې وړي او د هغو ګڼ شمیر کارګرانو منځ ته ځي چې دښمن په شړه ځمکه کې د پوځي تأسیساتو جوړولو لپاره په زور کار ته ګمارلي دي.



کله چې هغوی د دښمن له پهره دارۍ تیریدل، قوماندان پر چانګ غږ کوي او وايي:«اربابه ته هم نن راغلی!» «هئوکین ـ پیائو» چې د دښمنانو یو افسر و، پام یې د هغه خبرې ته اوړي، غوږونه بوڅوي. چانګ چې تابیه کړی چې رول ولوبوي. ځواب ورکوي:«هو، بالاخره یې اړ کړم چې دلته د راتللو لپاره خپل دکان وتړم.» او ادامه ورکوي:«هیله کوم له خپل آمر څخه وغواړی چې اجازه راکړي خپل پلورنځي ته ستون شم.» هئوکین پیائو بی له ځنده چیغه وهي:«ټوکی کوئ! ناشوني ده! هله تیز کار ته لاړ شه!»